غوږونه دوه سوري لری:

- External acoustic meatus
- Internal acoustic meatus



ketabton.com - The Digital Library

9: CN IX: Glossopharyngeal Nerves

دی عصب ته دانوم ځکه ورکړل شوی چی دا یوه شعبه Gloss یعنی ژبی ته ورکوی او بله شعبه Pharynx یعنی ستوني ته ورکوی.

دا عصب د نوعیت له نظره Mix عصب دی یعنی هم Motor او هم Sensory دی.

او همدارنګه له دی سره پاراسمپاتیک فایبرونه هم شته.

Sensory یی Tongue یا ژبی ته راځی خصوصآ د ژبی 1/3 post برخی ته او په Taste یا د غذا د خوند په معلومولو کی رول لری.

پاراسمپاتیک فایبرونه یی غیری ارادی غړو ته راځی یا Parotid gland ته راځی.

او Motor برخه یی د Pharynx عضلی ته راځی چی هغی عضلی ته Stylopharyngeal muscle وایی.

دا عصب د Medulla څخه منشاء اخلی چی کله منشاء واخلی نو د Jugular foramen له لاری د Skull څخه خارجیږی او Neck ته راځی په Neck یا غاړه کی په Branches یا شعبو ویشل کیږی:

- Lingual branch: to tongue
- Tonsillar branch: to tonsil
- Muscular branch: to Stylopharyngeal muscle
- Pharyngeal branch: to Pharynx
- Carotid branch: to Carotid body or sinus


Carotid branch

دغه شعبه د Carotid body د Bifurcation برخی ته راځی یعنی په کوم ځای کی چی په دوه برخو ویشل کیږی، او Carotid body تعصیبوی.

Carotid body په حقیقت کی د Chemoreceptors مجموعه ده.

دغه اخذی یا Receptors د Hypoxia او Hypercapnia په مقابل کی تنبه کیږی.

ketabton.com - The Digital Library



10: CN X: Vagus Nerves

جمع یی Vagi ده او د Vagus تخت لفظی معنا مبهم یا نامعلوم دی یعنی دقیق سیر یی معلوم نه دی زمونږ د بدن هری خواته شعبات ورکوی.

د وظیفی له نظره Mixed عصب دی یعنی هم Sensory دی او هم Motor ریشی لری، همدارنګه دا هم د پاراسمپاتیک فایبرونه لری او ورسره ښکته کیږی.

Sensoryبرخه یی د Larynx یا خنجری Mucus membrane مخاطی غشاء ته راځی.

Motor برخه یی د Larynx د عضلاتو سره کار لری.

پاراسمپاتیک فایبرونه یی: څومره غیری ارادی غږی چی په سینه کی دی هغی ټولو برخو ته شعبات ورکوی. (زړه، سږی او نور) او هم د ګیډی زیاتره برخو ته راځی په استثنیّ د Large intestine د ځینو برخو څخه او Pelvic organ څخه چی هلته نه ځی.

دا یواځینی CN دی چی د غاړی څخه ښکته کیږی سینی ته راځی او د سینی څخه د Pelvic برخی ته ښکته کیږی، او دا یواځینی CN دی چی اوږودوالی یی د نورو په نسبت زیات دی.

دا عصب د Medulla څخه منشاء اخلی او د Skull څخه د Jugular foramen له لاری خارجیږی او غاړی ته به راځی، یعنی دا جوړه دی یا دوه دانی دی. دا دواړه Vagus عصب یو

ketabton.com - The Digital Library

Right طرف ته او بل د غاړی Left طرف ته راځی. په غاړه کی ددی دواړو عصبونو ارتباطات یوشان دی خو کله چی د غاړی څخه سینی ته راځی نو ددی دواړو ترمنځ دغه ارتباطات بیا فرق کوی. دا بیا د حجاب حاجز یا Diaphragm څخه تیریږی او بیا گیډی ته راځی.

په Diaphragm کی یو ډول سوری موجود دی چی ورته Esophageal opening وایی ددی سوریو له لاری Esophagus گیډی ته ښکته کیږی او ددی سوری له لاری د Vagus عصب هم گیډی ته ښکته کیږی یا داخلیږی. کله چی Abdominal cavity ته داخل شو هلته Right Vagus عصب د Stomach په خلف کی په Branches یا څانګو ویشل کیږی چی ورته Posterior vagal trunk وایی او Left Vagus عصب د Stomach په قدام کی په Branches یا څانګو ویشل کیږی چی ورته Anterior vagal trunk وایی.

Branches of Vagus nerves

- **Meningeal branch**

کوم چی Dura matter تعصیبوی.

- **Auricular branch**

د External ear د Auricle برخه تعصیبوی.

- **Pharyngeal branch**

د Pharynx ټول عضلات تعصیبوی په استثنیّ د Stylopharyngeal muscle چی دا د نهم Cranial nerve په واسطه تعصیبیږی.

- **Superior laryngeal branch**

دا په دوه برخو ویشل کیږی:

- External laryngeal branch

دا خنجری ته راځی او هلته Cricothyroid muscle تعصیبوی.

- Internal laryngeal branch

دا د خنجری مخاطی غشاء ته راځی. کوم Mucus membrane یا مخاطی غشاء چی تر Vocal cord پوری وی هلته راځی او هغه تعصیبوی.

ketabton.com - The Digital Library

■ Recurrent laryngeal nerve


دا عصب د Larynx له څنګ څخه تیریږی او شعبه نه ورکوی خو کله چی یی د څنګ څخه تیر شو وروسته دوباره بازګشت کوی یعنی بیا Larynx ته شعبه ورکوی.


Larynx ته ځکه راځی چی هلته دوه کارونه ترسره کوی:

- د Larynx ټول عضلات تعصیبوی په استثنیّ د Cricothyroid عضلی څخه چی هغه نه تعصیبوی.
- د Larynx یا خنجری Mucus membrane تعصیبوی کوم چی د Vocal cord څخه لاندی یا ښکته دی.

■ Cardiac branch

دا زړه ته راځی او HR کموی.





11: CN XI: Accessory Nerves

کومکی هم ورته وایی. کومکی ځکه ورته وایی چی په یواځی شکل سره غاړی ته نه راځی خو د Vagus عصب شاته د کومکی عصب په شکل راځی.

دا یواځینی Cranial nerves دی چی دوه منشاء ګانی لری:

ketabton.com - The Digital Library

- **Spinal root**

دا د Upper 5 cervical segment او Spinal cord څخه منشاء اخلی.

- **Cranial root**

دا د Medulla له برخی څخه منشاء اخلی.

Spinal root چی کله د Spinal cord څخه منشاء واخلی نو د Foramen magnum له لاری Cranial cavity ته داخلیږی، چی کله داخل شو نو هلته د Cranial root سره یوځای یا Join کیږی چی کله یوځای شو نو دی ته Accessory nerves وایی. نو دا عصب بیا د Vagus سره یوځای د Skull څخه د Jugular foramen له لاری خارجیږی او غاړی ته راځی او هملته خاتمه پیدا کوی.

په غاړه کی دا عصب دوه عضلی تعصیبوی:


- **Trapezius muscle**
- **Sternocleidomastoid muscle**

نو دا چی د عضلاتو سره کار لری نو دا عصب بیا د نوعیت له نظره یو Motor عصب دی.

12: CN XII: Hypoglossal Nerves

دا عصب ژبی ته راځی خو د ژبی د لاندی برخی څخه تیریږی، دا عصب د Medulla څخه منشاء اخلی او Motor عصب دی چی د ژبی ټول عضلات تعصیبوی.

د Skull څخه د یو کانال له لاری خارجیږی چی هغی کانال ته Hypoglossal canal وایی.



ketabton.com - The Digital Library

Spinal Nerves

هر Spinal nerve د دوو ورو ریښو دیوځای کیدو څخه جوړیږی.

- Dorsal rootlet
- Ventral rootlet

دغه ریښي په Intervertebral foramen کی سره نږدی یوځای کیږی.

Dorsal rootlet په خپل مسیر کی پرسوب لری چی ورته Posterior or dorsal root ganglia ویل کیږی.


Branches of Typical Nerve

Spinal nerve له Spinal cord سره د دوه ریښو (Dorsal or ventral roots) په واسطه وصل شوی دی. Ventral root د Spinal cord د Anterior horn سره خو Dorsal root بیا د Spinal cord د Posterior horn سره وصل دی.

په هره خوا کی Anterior root او Posterior root سره یوځای کیږی او Spinal trunk جوړوی چی هم Motor او Sensory فایبرونه لری، کله چی Spinal trunk د Intervertebral foramen ته ورسیږی په Anterior & Posterior Rami باندی ویشل کیږی.

Dorsal (Post) ramus د Vertebral column ته نږدی عضلات او پوستکی تعصیبوی خو Ventral rami اوږده ده او Upper & lower limb ته رسیږی.

Spinal nerves چی 31 جوړی دی 8 یی د Cervical د ناحیی، 12 یی د Thoracic، 5 یی د Lumber، 6 یی د Sacral ناحیی او یو یی د Coccygeal nerve دی.




ketabton.com - The Digital Library

Plexus

دیر Spinal nerve سره یوځای کیږی او دری Plexus جوړوی:

- Cervical Plexus
- Brachial Plexus
- Lumbosacral Plexus

T2 او T11 spinal nerve پوری شعبات د Plexus په جوړیدو کی برخه نه اخلی او د Ribs ترمنځ په سینه کی غځیدلی او شاوخوا عضلاتو او پوستکی ته شعبات ورکوی.



Cervical Plexus

د پورتنیو څلورو Cervical nerve د Ventral rami په واسطه جوړ شوی چی شعبات یی په دوه ګروپونو ویشل شوی دی:

- Superficial (Cutaneous) Branches

چی دا په خپل وار سره لاندی شعبات لری:

- Lesser occipital nerve
- Great auricular nerve
- Transvers cutaneous nerve of the neck
- Supra clavicular nerve

- Other Branches

چی دا بیا په دوه ډوله دی:


ketabton.com - The Digital Library

- **Communicating branch**

چی د Vagus، Hypoglossal او Sympathetic nerve سره رابطه لری.

- **Muscular branch**

کوم چی د سر عضلات تعصیبوی.



Phrenic nerve

دی ته Nerve diaphragm هم وایی ځکه د حجاب حاجز، Sensation او Movement سره کار لری.

د نوعیت له نظره Mixed عصب دی یعنی هم Motor دی او هم Sensory دی.


د Motor برخه یی د Diaphragm عضلاتو ته راځی.

او Sensory یی Diaphragm ته راځی او ددی په Sensation کی رول لری.

حجاب حاجز دوه مخه لری، پاسنی مخ یی د Pleura په واسطه پوښل شوی لاندینی مخ یی د Peritoneum په واسطه پوښل شوی دی، نو دا عصب Mediastinal pleura او Pericardium تعصیبوی.


دا عصب له C3، C4، او C5 spinal nerve د Ant rami څخه په غاړه کی د تایراید عضروف د Superior border څخه منشاء اخلی.

دا عصب د Diaphragm د Canal opening له لاری کیډی ته داخلیږی کله چی داخل شو نو ځان بیا خپل هدف ته رسوی. ددی عصب د زیات تخریب له کبله Hiccup (اټکی) پیدا کیږی که دغه Hiccup دوامداره شی نو باید د CRF (Chronic renal failure) لپاره وشی خصوصآ دا په زړو اشخاصو کی وی او یا په تداوی کی ورته د Phenergan شربت ورکول کیږی.



Brachial Plexus

د ټولو څخه غټ Plexus دی یوه برخه یی په Neck کی او بله یی په Axilla کی موقیعت لری، په Upper limb کی چی څومره عضلات وی له دی څخه ورته شعبات ځی. ددی په ترکیب کی C5، C6، C7، C8 او T1 spinal nerve د قدامی Rami برخه اخلی.



Copyright ©2006 by The McGraw-Hill Companies, Inc.
All rights reserved.

ketabton.com - The Digital Library

د جوړښت له نظره دا Plexus د لاندی برخو څخه جوړ شوی دی:

- Root
- Trunk
- Division
- Cords

Root

پنځه ریښی یا Roots لری:

- C5
- C6
- C7
- C8
- T1

د Root د یوځای کیدو څخه Trunk جوړیږی، که C5 او C6 سره یوځای شی نو Upper trunk جوړوی، C7 ریښه په یواځی ډول سره Middle trunk جوړوی او کله چی C8 او T1 سره یوځای کیږی نو Lower trunk جوړوی.

هر Trunk په دوو برخو ویشل کیږی چی هری برخی ته یی Division ویل کیږی، یوته یی Upper division ویل کیږی او بل ته یی Lower division ویل کیږی.

د upper trunk upper division او middle trunk upper division سره یوځای کیږی او Cords جوړوی چی ورته Lateral cord وایی.

Lower trunk upper division په یواځی ډول سره Medial cord جوړوی.

او Middle trunk lower division, upper trunk lower division او د lower trunk lower division سره یوځای کیږی او Posterior cord جوړوی.

د Division د برخی څخه یی کوم عصب منشاء نه اخلی یا به د Trunk، Root او یا هم د Cords څخه به منشاء اخلی، خو زیاتره یی بیا د Cords څخه منشاء اخلی.

ددی عصب د Root څخه دوه عصب منشاء اخلی:

- Long thoracic nerve
- Dorsal scapular nerve

ketabton.com - The Digital Library

د Trunk له برخی څخه یی د Upper trunk عصب منشاء اخلی چی هغه هم دوه دانی دی:

- Supra scapular nerve
- Nerve to subclavian muscle

د Lateral cord څخه لاندی عصب منشاء اخلی:

- Muscle cutaneous
- Lateral pectoral nerve
- Lateral root of median nerve

د Medial cord څخه لاندی شعبات منشاء اخلی:

- Ulnar nerve
- Medial pectoral nerve
- Medial root of median nerve
- Medial cutaneous nerve of arm
- Medial cutaneous nerve of forearm

د Posterior cord څخه لاندی شعبات منشاء اخلی:

- Upper sub scapular nerve
- Nerve to latissimus dorsi muscle
- Lower sub scapular nerve
- Axillary nerve
- Radial nerve

Musculo cutaneous nerve

دا د Brachial plexus د Lateral cord څخه منشاء اخلی. دا Mixed عصب دی یعنی هم Motor او هم Sensory دی.

Motor برخه یی د Arm قدامی برخی عضلات تعصیبوی او Sensory برخه یی پوستکی تعصیبوی خصوصآ د Forearm د Lateral part پوستکی.

ketabton.com - The Digital Library

Radial nerve

دا هم د Brachial plexus یوه شعبه ده چی د Posterior cord څخه منشاء اخلی یو Mixed عصب دی.

Motor برخه یی د Arm او Forearm د Posterior part عضلات تعصیبوی او Sensory برخه یی د hand پوستکی ته راځی او د لاس د Dorsal برخی 3نیمی وحشی گوتو پوستکی تعصیبوی.

Ulnar nerve

دا هم د Brachial plexus یوه شعبه ده چی د Medial cord څخه منشاء اخلی، دا هم Mixed عصب دی.

Motor برخه یی د دوه برخو عضلاتو ته راځی:

- د لاس ټول عضلات تعصیبوی په استثنّي د Thenar او لومړی او دوهم Lubrical عضلاتو څخه.
- د Forearm د Anterior برخی دوه عضلاتو نیمه ای انسی قسمت (Median half) ته راځی چی دا دوه عضلات په لاندی ډول دی:

- Flexor carpiulnaris muscle
- Flexor digitorum profundus

Sensory برخه یی د لاس پوستکی ته راځی، د لاس د یو نیم انسی گوتو په اندازه او د Palmar او Dorsal پوستکی تعصیبوی.

Auxiliary nerve

دا هم د Brachial plexus یوه شعبه ده چی له Posterior cord څخه منشاء اخلی او د Deltoid muscle او د هماغی برخی پوستکی هم تعصیبوی.

Thoracic spinal Nerves

هغه عصب دی چی د سینی له برخی څخه محیط ته ځی دا له T1 څخه تر T12 پوری 12 جوړی لری، لومړنی 11 جوړی یی د Intercostal spinal nerve او دولسمه جوړه یی د Sub costal spinal nerve په نومونو یادیږی.

ketabton.com - The Digital Library

هر Spinal nerve د Ribs یا پښتیو لاندینی Borders څخه تیریږی او په Lower border کی یوه Grove ده چی د Sub costal grove په نوم یادیږی په هغی کی تیریږی د VAN په شکل یعنی Vein, Artery, Nerve د هری پښتی څخه لاندی دا دری شیان تیریږی.

دا یواځینی Spinal nerve دی چی په یواځی ځان سره Plexus جوړوی.

دوهم Classification یی:

- Typical thoracic spinal nerve
- Atypical thoracic spinal nerve

Typical خاص اعصاب دی او یواځی د سینی عضلاتو او پوستکی ته شعبات ورکوی دا دری دانی Typical spinal nerve دی:

- T4
- T5
- T6

Atypical د T1 څخه تر T3 پوری او د T7 څخه تر T12 پوری شعبات ورکوی، T1 او T3 یی د سینی څخه علاوه Upper limb ته شعبات ورکوی او T7 او T12 یی Abdominal part ته شعبات ورکوی.

Lumber Plexus

دا د Abdomen په Posterior wall کی د Psoas major muscle څخه شاته موقیعت لری، د L1 څخه تر L4 spinal nerve د Anterior rami په واسطه جوړیږی.

Borders of Lumber Plexus

نظر دی ته چی د Psoas muscle د کومی برخی څخه وځی:

- Anterior Border

هغه شعبات چی د Psoas د عضلی د قدامی برخی څخه وځی.

- Medial Border

هغه شعبات چی د Psoas عضلی د انسی برخی څخه وځی.

- Lateral Border

هغه شعبات چی د Psoas د عضلی د وحشی Border څخه منشاء اخلی.

ketabton.com - The Digital Library

Anterior Border

ددی څخه یواځی یوه شعبه وځی:

- **Genital Femoral Nerve**

دغه عصب دوه برخی لری:

- **Genital**

کوم چی تناسلی برخو ته راځی، په نارینه وو کی دا د **Cremastric** عضلی ته راځی او د **Testis** په پورته کولو کی رول لری، په ښځینه وو کی بیا دا **Labia major** ته ځی.

- **Femoral**

دا برخه یی د **Thigh** قدامی پورته برخی ته راځی او د پوستکی تعصیبوی.

Cremastric Reflex

که د نارینه وو د ورون (Thigh) پورتنی برخه د یوه تیره څیز په واسطه **Scratch** شی نو **Testis** پورته کیږی ځکه دلته یو عصب راغلی دی نو دی ته **Cremastric reflex** وایی.

Medial Border

له دی څخه دوه عصبه وځی:

- **Obturator Nerve**

دی ته ځکه دا نوم ورکړل شو چی دا **Pelvic** ته راځی او هلته د **Obturator foramen** له لاری خارجیږی او **Thigh** ته راځی او د **Thigh** په **Medial** برخه کی **Skin** او عضلات تعصیبوی.

- **Lumbo sacral Trunk**


دا د **L4** او **L5 spinal nerve** د **Anterior rami** مجموعی ته وایی، دی ته ځکه دا نوم ورکړل شوی چی هم د **Lumber** له ناحیی څخه وځی او **Sacral** ځکه ورته وایی چی د **Sacral plexus** په جوړیدو کی برخه اخلی او **Trunk** د دوو ریښو څخه منځ ته راځی.

ketabton.com - The Digital Library

Lateral Border

لاندی شعبات تری راوځی:

- Iliohypogastric nerve
- Ilioinguinal nerve
- Lateral Cutaneous nerve of thigh
- Femoral nerve



Sacral Plexus

دا Plexus په Pelvic کی جوړیږی(په حوصله کی د یو پوښ یا Fascia څخه لاندی جوړیږی)

دا د L4، L5، S1، S2، S3 او Portion of S4 Spinal nerve د Anterior rami برخی په واسطه جوړیږی.

L4 او L5 ته Lumbosacral trunk هم وایی.

ketabton.com - The Digital Library

Branches

- Sciatic nerve

دی ته رګ نثاء هم وایی دا ورته ځکه وایی چی ددی امراض نسبت سرو ته په بنځو کی زیات وی د Lower limb اکثره عضلات او پوستکی ددی په واسطه تعصیبیږی. دا په ټول بدن کی تر ټولو اوږود ترین او هم ضخیم ترین عصب دی، Pelvic څخه شروع کیږی او تر Foot یا پښی پوری رسیږی.

Pathway of Sciatic nerve

دا عصب د Pelvic څخه شروع کیږی او د Pelvic څخه د Greater sciatic foramen له لاری خارجیږی او Gluteal muscle ته راځی، او د Inferolateral برخی څخه تیریږی او د Thigh شاتنی برخی ته راځی. دا عصب د Gluteal د برخی Suprolateral څخه نه تیریږی

ځکه د ستنی لپاره هغه مناسب ځای دی. دا عصب تر Popliteal fossa کوم چی د Knee joint شاته موقیعت لری هغی پوری راځی او په دوه برخو ویشل کیږی:

- Tibial nerve
- Common Peroneal nerve (Fibular nerve)

Tibial Nerve

دا د Sciatic nerve څخه د Popliteal fossa په علوی برخه کی منشاء اخلی او دا په Leg کی د Tibial هډوکی په امتداد ښکته د Ankle joint پوری راځی.

کله چی Ankle joint ته ورسیږی نو په دوه شعبو باندی ویشل کیږی:

- Medial planter nerve
- Lateral planter nerve

Common peroneal (Fibular) Nerve

دا په Leg کی د Fibula هډوکی تر Neck پوری راځی او هلته په دوه برخو ویشل کیږی:

- Superficial peroneal nerve
- Deep peroneal nerve


دا دواړه د Foot یا پښی Dorsal برخی ته راځی او هلته ټول عضلات او پوستکی تعصیبوی.

ketabton.com - The Digital Library

Coccygeal Plexus

په بدن کی ترټولو کوچنی ترین Plexus دی.


د S4، S5 او د Coccygeal nerve په واسطه د Coccyx هډوکی د پاسه په حوصله کی جوړیږی او له دی څخه یوه شعبه منشاء اخلی چی هغی ته Anococcygeal nerve وایی یعنی دا د Anus شاوخوا ته راځی.



ANS (Autonomic Nervous System)

دا هم د محیطی عصبی سیستم پوری مربوط دی یعنی له مرکز څخه محیط ته ځی، دا دوه برخی لری:

- Sympathetic
- Para Sympathetic



ketabton.com - The Digital Library

دوی د بدن غیری ارادی غړو ته ځی، دوی هر غړی ته یوځای ځی او د یوبل ضد کار ترسره کوی په استثنّی د لاړو غداواتو چی په هغی باندی یوشان تاثیر لری یعنی که زیات شی نو تنبه کوونکی تاثیر لری.

سمپاتیک له دوو ځایونو څخه خارجیږی:

- Thoracic lumber

پاراسمپاتیک هم له دوه ځایونو څخه خارجیږی:


- Cranium sacrum

Sympathetic Nervous system

Sympathetic ganglia یا ورته Para vertebral ganglia هم وایی دا هغه Ganglia ګانی دی چی د Spinal cord سره موازی سیر لری.

Preganglionic fiber د Ganglia څخه مخکی دی او د Spinal cord څخه وروسته واقع دی کله چی دا سمپاتیک فایبرونه راوځی نو ددی Ganglia سره یوځای کیږی چی همدی ته Preganglionic fiber ویل کیږی کله چی له دی سره یوځای شی نو له دی څخه بل Fiber وځی او هغه راځی د اعضاوو سره یوځای کیږی چی هغی ته Post ganglionic fiber ویل کیږی، Preganglionic fiber لنډ فایبرونه (Short fiber) دی او Postganglionic اوږده (Long fibers) دی.

د Preganglionic fiber د نهایت څخه Acetylcholine افرازیږی او د Post ganglionic fiber څخه بیا Epinephrine او Norepinephrine افرازیږی.



ketabton.com - The Digital Library


Para Sympathetic fiber

پاراسمپاتیک چی کومه عضوه تعصیبوی دغه Para sympathetic fiber هغی ته نږدی موقیعت لری.

لکه: پاراسمپاتیک چی زړه تعصیبوی نو هملته یی Ganglia هم وځی او Preganglionic fiber ورته وایی.

ددی postganglionic fiber لنډ یا Short او Preganglionic fiber یی Long دی.


دا دواړه فایبرونه یعنی د Preganglionic fiber او Post ganglionic fiber څخه Acetylcholine افرازیږی.



ketabton.com - The Digital Library

15th chapter

Anatomy of the Eye





Mr.18
Kefayatullah.naibamani

Mr.18 | BY: KEFAYATULLAH NAIB AMANI 078 4 59 75 49

ketabton.com - The Digital Library

Eye


سترګه

Location: Orbital cavity

د اناټومی له نظره سترګه لاندی طبقی لری:

- **Outer layer (Fibrous layer)**
- **Vascular layer (Middle layer)**
- **Inner layer (Nervous layer)**

Outer layer or Fibrous layer



په دی طبقه کی دوه برخی شاملی دی:

- **Sclera**


د سترګی 5/6 خلفی برخه جوړوی کوم چی له Dense fibrous tissue څخه جوړه شوی ده، دنده یی د سترګی شکل ثابت ساتل دی، سپین رنګ لری.

د Skleros څخه اخستل شوی چی د Hard په معنا سره ده.

- **Cornea**

دا د سترګی 1/6 قدامی برخه جوړوی د Iris څخه د Anterior chamber په واسطه جلا کیږی.


ketabton.com - The Digital Library



Structure of Cornea

د جوړښت له نظره Cornea د لاندی طبقو څخه جوړه ده:

- **Corneal Epithelium**
  - **Non keratinized stratified squamous epithelium**
- **Bowman's Membrane**
- **Substantia Propria**
- **Descemet Membrane**
- **Simple Squamous Mesothelium**




ketabton.com - The Digital Library

Middle layer or Vascular layer

دا له دری برخو څخه جوړه ده:

- Choroid
- Ciliary body
- Iris



Choroid

دا یوه نازکه رنګینه طبقه ده چی د Sclera خلفی قسمت له Retina څخه جدا کوی، بیرونی سطحه د Sclera څخه د Supra choroidal lamina په واسطه جلا کیږی.

Choroid د ساختمان له نظره د لاندی صفحو څخه متشکل دی:

- Outer vascular lamina

کومه چی د شریانونو او وریدونو څخه جوړه ده.

- Middle or choriocapillary lamina

کومه چی د Capillaries څخه جوړه ده او د Diffusion په عملیه کی د Retina د Cons او Rods حجرات تغذیه کوی.

- Inner or basal lamina

نازکه او شفافه صفحه ده چی د Retina په بیرونی رنګینه صفحی پوری نښتی ده.

Ciliary body

دا یوه ضخیمه برخه ده چی په شاتنی برخه کی له Choroid او مخکینی برخه کی له Iris سره وصل شوی ده. دا دوه برخی لری:

- Anterior Part


دا غاښ مانند ساختمانونه لری چی Ora serrata ورته وایی.

ketabton.com - The Digital Library

Posterior Part

د هستولوژی له نظره لاندی برخی لری:

- Ciliary Muscle
- Ciliary Process
- Vessels
- Epithelium two layers:
  Outer is Pigmented cuboidal epithelium
  Inner is non pigmented columnar epithelium



Iris

د منځنی طبقی تر ټولو قدامی برخه ده، په منځنی برخه کی یو سوری لری چی د Pupil په نوم یادیږی.

Structure of Iris

د Iris قدامی Structure د یو طبقه یی Mesothelium په واسطه پوښل شوی او خلفی یی د دوه طبقه یی Pigmented cells په واسطه پوښل شوی دی، د Stroma برخه یی د Vessels، Loss connective tissue او Pigment cells څخه جوړه ده.

په Iris کی دوه نوعه عضلات لیدل کیږی:

- **Circular muscle**

یا حلقوی عضلات چی د پاراسمپاتیک اعصابو په واسطه تعصیب شوی وی.

ketabton.com - The Digital Library

- Radial muscle

دا د سمپاتیک اعصابو په واسطه تعصیب شوی دی.

د Pupil قطر 2-4mm پوری دی، په کمه رڼا کی یی قطر زیاتیږی او په زیاته رڼا کی یی قطر کمیږی.

Retina or Inner coat

د سترګی په 2/3 خلفی برخه کی موقیعت لری، په دی کی اعصاب زیات دی نو د Neural layer په نوم هم یادیږی، خارجی سطحه یی د Choroid سره نښتی ده او داخلی سطحه یی د Hyaloid membrane سره په تماس کی ده.

د خلف څخه قدام ته دری برخی لری:

- Optic
- Ciliary
- Iridial

Optic برخه یی د Nervous tissue لرونکی ده چی د رڼا په مقابل کی حساس دی، د Retina دا برخه له Optic disk څخه د Ciliary body تر خلفی نهایت پوری امتداد لری ددی برخی قدامی کنار موج مانند خط چی د Ora serrata نومیږی جوړوی، په Optic disk کی یوه فرورفتګی وجود لری چی د Physiological cup په نوم یادیږی دا برخه یعنی دغه فرورفتګی Rods او Cons نه لری له دی کبله د رڼا په مقابل کی غیری حساسه ده.

د سترګی ګاټی په خلفی نهایت کی د Optic disk څخه 3mm وحشی لوری ته یوه بله فرورفتګی قرار لری چی Macula lutea نومیږی دغه فرورفتګی ژیړ رنګ لری د دغه فرورفتګی مرکزی قسمت کی لږ څه ژوروالی شته چی Fovea centralis جوړوی او دا د Retina نازکترینه برخه ده دا برخه یواځی Cones لری.

په Retina کی Receptors لیدل کیږی چی دا اصلاً Photoreceptors دی او په دوه ډوله دی:

- Rods

په Dim light یعنی د شپی په لیدلو کی مرسته کوی.

- Cones

په زیاته رڼا Bright light یعنی د ورځ په لیدلو کی مرسته کوی.

ketabton.com - The Digital Library

Layers of Retina

د هستولوژی له نظره لاندی 10 طبقی لری:

- The Pigmented layer
- Layer of Rods and Cons
- External limiting membrane
- Outer nuclear layer
- Outer plexiform layer
- Inner nuclear layer
- Inner plexiform layer
- Ganglion cell layer
- Nerve fiber layer
- Internal limiting membrane




Fig. 2. Simple diagram of the organization of the retina.

ketabton.com - The Digital Library

Aqueous Humor


یوه شفافه مایع ده چی د سترګی په Anterior segment کی قرار لری. دغه Segment د Iris په واسطه په Anterior او Posterior chamber ویشل شوی دی، Aqueous humor په Posterior chamber کی د Ciliary process د شعریه عروقو په واسطه افرازیږی.

Lens

د سترګی عدسیه یوه محدب الطرفین شفافه، غیری وعایی ساختمان دی چی د سترګی د ګاټی د Anterior او Posterior segment ترمنځ قرار لری. د جوړښت له نظره دری برخی لری:

- Capsule
- Cortex
- Nucleus

Lens د Suspensory ligament په واسطه په ځوړند شکل ساتل کیږی.



Vitreous Body

دا یوه جیلی مانند بی رنګه شفافه کتله ده چی د سترګی په Posterior segment کی قرار لری.

Clinical anatomy

- Eye is very sensitive organ.

ketabton.com - The Digital Library

- Cornea can be grafted from one person to another hence it is a vascular.
- Injury to cornea may cause opacities and inferior with opision.
- Over production of aqueous humor or lacks of it drainage or combination of both condition raise intraocular pressure the condition is called glaucoma.

Muscle of Eye

- Intrinsic muscle
- Extrinsic muscle

Extrinsic عضلات په دوه ډوله دی:

- Involuntary muscle

دا دوه دانی دی:


- Superior tarsal muscle

پورتنی ځیرمو (Eyelid) د Elevation سبب ګرځی.

- Inferior tarsal muscle

د ښکتنی ځیرمو (Eyelid) یا سترغلی د Depression یا ښکته کیدو سبب کیږی.

- Voluntary muscle
  - Rectus muscle:
    Superior rectus muscle
    Inferior rectus muscle
    Medial rectus muscle
    Lateral rectus muscle
  - Oblique muscle:
    Superior oblique muscle
    Inferior oblique muscle
  - Levator palpebral superior muscle



Lacrimal Apparatus

ټول هغه جوړښتونه چی د اوښکو په اطراح او تولید کی رول لری، لاندی برخی لری:

ketabton.com - The Digital Library

- Lacrimal glands
- Lacrimal canaliculi
- Lacrimal sac
- Nasolacrimal duct

Lacrimal gland

دا یوه Serous gland ده او په Lacrimal fossa کی موقعیت لری.

دا د J شکل لری او دوه برخی لری:

- Orbital part

دا یوه غټه او Deeper برخه ده.

- Palpebral part

کومه چی کوچنی او Superficial برخه ده.

Conjunctival sac

دا اصلاً یو Mucus membrane دی.

The conjunctiva lining deeper surface of eyelid is called palpebral conjunctiva and that lining in front of eye ball is caller bulbar conjunctiva.

The potential space between the palpebral and bulbar conjunctiva is called conjunctival sac.

Lacrimal Canaliculi

دا دوه برخی لری:

- Vertical part: about 2mm
- Horizontal part: about 8mm

Lacrimal sac


It is the upper dilated part of nasolacrimal duct. It connect lacrimal canaliculi and nasolacrimal duct, 12mm long and 5mm wide.

ketabton.com - The Digital Library


Nasolacrimal duct

It is a membranous passage 18 mm long begins at the lower end of lacrimal sac and opens into inferior meatus.

At the lower end of nasolacrimal duct there is a fold of mucus membrane forming an imperfect valve called hasner valve.




LACRIMAL APPARATUS



ketabton.com - The Digital Library

16th chapter

Integumentary system





Mr.18

Kefayatullah.naibamani

Mr.18 | BY: KEFAYATULLAH NAIB AMANI 078 4 59 75 49

ketabton.com - The Digital Library

Integumentary system

پوښنوونکی سیستم

Consist of the skin and accessory structure such as Hairs, Nails and Glands.

Integumentary= Cover

Skin

پوستکي

پوستکی د تماس یوه عضوه ده او په دوه برخو باندی ویشل شوی ده:

- **Glabrous skin**

چی د لاس په ورغوي او د پښی په تلي کی موجود وی دیر ضخیم وی، ویښتان نه لری(Hair less) وی او Sebaceous gland هم نلری.

- **Hairy skin**


هغه پوستکی دی چی هم ویښتان او هم Sebaceous gland ولری.

Layers of the skin

پوستکی دوه طبقات لری:

- **Dermis**
  - Connective tissue layer
- **Epidermis**
  - Epithelial tissue layer

په ځینو کتابونو کی یی Sub cutaneous دریمه طبقه شمیرل کیږی.



ketabton.com - The Digital Library


Epidermis

د پوستکی سطحی طبقه ده چی د سترګو په واسطه یی ګورو او د Dermis لپاسه واقع ده، د لاندی څخه پورته خواته پنځه طبقی لری:

- Stratum Germinatum
- Stratum Malpigi
- Stratum Granulosm
- Stratum Lucidum
- Stratum Corneum

Cells of Epidermis

- Melanocyte: Producing melanin
- Keratinocyte: Producing keratin
- Langerhans cell: antigen presenting cells
- Merkle cell:



ketabton.com - The Digital Library

Dermis

د پوستکی دا برخه له دوو طبقو څخه جوړه ده:

- Upper layer or Papillary layer
- Lower layer or Reticular layer

Structure of Dermis

په دی طبقه کی Connective tissue زیات لیدل کیږی او همدارنګه لاندی حجرات هم پکی لیدل کیږی:

- Mast cell
- Histocyte
- Fibroblast

همدرانګه د وینی رګونه هم په دی طبقه کی وجود لری او د Arrector pillic muscle لرونکی هم دی.

Accessory Skin Structure

- Hairs
- Nails
- Glands:
  - Sweat glands
  - Sebaceous glands

Hairs

Hair are present on the skin covering almost the whole body. The sides where they are not present include the palms, the soles, the ventricle surface and sides of the digits and some parts of the male and female external genitalia.

ویښتان دوه برخی لری:

- Root
- Shaft

ketabton.com - The Digital Library

ویښتان دری ډولونه لری:

- **Lanugo hair**

نرم او سپین ویښتان دی چی په مخ کی پیدا کیږی بغیر د ږیری، بریتو،وریځو او باڼو څخه ټول ویښتان پکی شامل دی.

- **Terminal hair**

د Lanugo hair او Stiff hair څخه بغیر ټول ویښتان پکی شامل دی لکه: د ږیری (Beard)، بریتو (Mustache)، د سر ویښتان او نور دی.

- **Stiff hair**

د وریځو (Eyebrow)، باڼه (Eyelash)، د غوږ ویښتان او د پوزی په داخل کی ټول ویښتان پکی دی گروپ کی راځی.

ویښتان د تکثر له مخی دوه مرحلی لری:


- **Anagen phase**

د لویدلو مرحلی ته وایی.

- **Telagen phase**

دا ویښتان د استراحت په حالت کی وی یعنی نه لویږی او 6months څخه تر 6yers پوری عمر لری.

که د سر ویښتان د ورځی 100 دانی ولویږی نو دا یو نارمل حالت دی.



ketabton.com - The Digital Library

Sebaceous gland

په توله بدن کی شته خو د لاس په ورغوی او د پښی په تلی کی نشته.

دا غدواوت د Sebum په نوم ماده جوړوی کومه چی له کلسترول او Fatty acids څخه جوړه شوی ده. همدارنګه ددی مادی دنده داده چی ویښتان غوړ ساتی یعنی ویښتانو ته نرموالی یا Flexibility ورکوی او هم Anti fungeal تاثیر لری.

Sweat gland

دغه غدواوت د بدن په توله برخو کی شته خو په لاندی ځایونو کی نشته:

- Glans penis
- Clitoris
- Nail bed
- Lips

ددی غدواتو فعالیت د فشار(Stress)، د جنسی فعالیت (Sexual activity)، فزیکی فعالیت او ډار (Fright) په وخت کی زیاتیږی.

دغه غدواوت د هستولوژی له نظره دوه برخی لری:

- Eccrine

دا د بدن د پوستکی په زیاتره برخو کی شته خو په Glans penis، Clitoris او Nail bed کی نشته.

- Apocrine

دا یواځی په Nipple، Areola او Axilla and genital areas کی موجود وی.

Nail

د ګوتو په Distal phalanx کی په Dorsal surface کی موقیعت لری.


دوه Borders لری:

- Fixed edge
- Free edge

هغه پوستکی چی نوک یی احاطه کړی دی د Nail fold په نوم یادیږی.

ketabton.com - The Digital Library

هغه پوستکی چی د نوک لاندی موقیعت لری د Nail bed په نوم یادیږی.




Physiology of Integumentary system

- Protection
- Sensation
- Vitamin D production
- Temperature regulation
- Excretion

ketabton.com - The Digital Library

17th chapter

Endocrine system





Mr.18
Kefayatullah.naibamani

ketabton.com - The Digital Library

Endocrine system

ددی سیستم غږی د اندوکراین غدواوت دی، دا هغه غدواوت دی چی هورمونونه جوړوی او قنات نه لری او خپل افرازات د وینی دوران ته اچوی.

Glands

Secretory epithelium is called glands.

غدواوت په دوه ډوله دی:

- Exocrine

هغه غدواوت دی چی خپل افرازات د اپتیلیم سطحی ته اچوی.

- Endocrine

هغه غدواوتو ته ویل کیږی چی خپل افرازات مستقیماً دوران ته اچوی.

د اندوکراین غدواوتو افرازاتو ته هورمون وایی، هورمون د Hormose له کلیمی څخه اخستل شوی چی د Stimuli معنا ورکوی.

Pineal gland

Location: Bellow splenium of corpus callosum.

Macroscopic structure

دغه غدواوت د Body او Stalk یا ساقی درلودونکی دی چی Body یی Conical یا مخروطی شکل لری او د 5 څخه تر 8 ملی متره اوږودوالی لری.

Stalk قداماً یا Anteriorly په دوه صفحو ویشل شوی دی:

- Anterior commissure
- Posterior commissure

Microscopic structure

دا غده د لاندی شیانو څخه جوړه ده:

- Pinealocytes
- Neuroglial cells

ketabton.com - The Digital Library

- Vessels
- Sympathetic fibers

Pituitary gland

نخامیه غده

Master gland هم ورته وایی ځکه د بدن اکثره غداوات ددی د کنټرول لاندی دی، همدرانګه Hypophyseal gland هم ورته وایی ځکه چی په Hypophyseal fossa کی موقیعت لری.

Location: Hypophyseal fossa

دغه Fossa د Sphenoid هډوکی په Body کی واقع شوی ده.

Shape: Oval

Size: About pea د ناک په شان

Parts of Master gland

- Anterior lobe


یا Adenohypophysis هم ورته وایی او د Epithelial cells څخه جوړ شوی دی.

- Posterior lobe

یا Neurohypophysis هم ورته وایی او د Nerves cells څخه جوړ شوی دی.


- Intermediate

ځینی کتابونه وایی چی دا برخه یی په انسانانو کی نه وی.



ketabton.com - The Digital Library

Copyright © The McGraw-Hill Companies, Inc. Permission required for reproduction or display.



Infundibulum

The pituitary stalk also known as the infundibular stalk or fender son funnel or simply the infundibulum.

It is the connection between the hypothalamus and the posterior pituitary.

Pituitary dwarfism

A young person with deficiency of GH remain small.

Gigantism

Excess GH before closing of growth palate result in gigantism.

The person abnormally tall.

Acromegaly

Excess of GH after closing of growth palate result in acromegaly.

Facial feature and hands become abnormally large.

ketabton.com - The Digital Library

Thyroid Gland

Location: Start from C5 to T1 vertebrae.

Shape: Shield like.

د غاړی په قدام او Lateral برخو کی موقیعت لری او د دوو لوبونو څخه جوړه شوی چی یو یی ښی لوب او بل یی چپ لوب دی، دا دواړه لوبونه د Isthmus په واسطه سره وصل دی.

کله کله دریم Lobe هم موجود وی چی کیدای شی هغه له Right یا Left لوب څخه منشاء واخلی، خو اساسآ دغه لوبونه د Isthmus څخه منشاء اخلی.

دریم لوب یی د Pyramidal lobe په نوم یادیږی.

د جوړښت له نظره دوه ډوله حجرات لری:

- Follicular cells
- Para follicular cells

څرنګه چی لوبونه یی Pyramidal شکل لری نو د لاندی برخو درلودونکی دی:

- Apex
- Base

Surfaces:

- Lateral
- Medial
- Posterolateral

Two borders:


- Anterior
- Posterior

Enlargement of thyroid gland is known as Goiter.

Decrease in function of thyroid glands is called hypothyroidism.


Increase in function of thyroid glands is called hyperthyroidism.

ketabton.com - The Digital Library



Para Thyroid Gland

دا دوه جوړی کوچنی غدی دی چی د تایراید د غدی په Posterior border کی موقیعت لری.



Endocrine part of Pancreas

دغه برخه له Microscopic عناصرو څخه چی ورته Pancreatic islets وایی جوړه شوی ده په دی کی مختلف حجرات موجود دی خو مهم یی په لاندی ډول دی:

- Beta cells
- Langerhans cells
- Alpha cells

ketabton.com - The Digital Library


Supra Renal Gland

دی ته Adrenal gland هم ویل کیږی دا د پریتوان شاته د بطن په Posterior جدار کی او د پښتورګو د پاسه موقیعت لری، دوه جوړه یی غداوات دی چی هره غده یی له دوه عمده برخو څخه جوړه ده:

- Medulla
- Cortex

هره غده تقریباً پنځه ګرامه وزن لری چی ددی وزن له جملی څخه 1/9 برخه یی د غدی Medulla او باقی 8/9 برخه یی د غدی Cortex جوړوی.

Right supra renal غده مثلثی شکل لری چی د Apex او Base درلودونکی دی، همدارنګه دوه Surfaces لری چی د Anterior او Posteriorڅخه عبارت دی.



Thymus Gland

دغه غده د Manubrium sterni شاته او په Anterior mediastinum کی موقیعت لری.

Thymus is Primary or central lymphoid organ located in mediastinum.

Size:

- In Birth= 10-15gram
- In Puberty= 30-40gram

ketabton.com - The Digital Library

د بلوغت څخه وروسته د Thymus په Size او وزن کی تغیر راځی.

Thymus دوه برخی لری:

- Supporting part: (Connective tissue)
- Parenchyma: (Stroma)

Supporting

په دی کی دری ساختمانونه شامل دی:

- Capsule

دغه غده د یونری Vascularize پوښ په واسطه پوښل شوی چی Capsule ورته وایی.

- Septa

د Capsule څخه داخل ته غده په Lobule ویشل کیږی چی ورته Septa وایی.

- Proper connective tissue

په دی کی Fibroblast، Collagen او نور شیان شامل دی.

Parenchyma


یا Functional part هم ورته وایی.

دا د دوه ډوله حجراتو څخه جوړه ده:

- Epitehloreticular cell
- T- lymphocyte

د همدی Lymphocyte له کبله د Thymus هر Lobule په دوه برخو ویشل کیږی:


- The outer part (Cortex)
- The inner part (Medulla)



ketabton.com - The Digital Library

18th chapter

Anatomy of the Ear



Inner Ear
- Oval Window
- Round Window
- Cochlea
- Semicircular Canals

Middle Ear
- Tympanic Membrane (Ear Drum)
- Auditory Ossicles (malleus, incus, stapes)
- Middle Ear Cavity
- Eustachian Tube

Outer Ear
- Pinna
- External Auditory Canal



Mr.18
Kefayatullah.naibamani

ketabton.com - The Digital Library

Ear

غوږ


غوږ د اناټومی له نظره له دری برخو څخه جوړ شوی دی:


- External ear
- Middle ear
- Internal ear (Inner ear)

External ear

په دی کی دوه برخی شامل دی:

- Auricle (Pinna)
- External auditory meatus





Auricle

دا برخه د Cartilage په واسطه جوړه او د Skin په واسطه پوښل شوی ده او د لاندی برخو درلودونکی دی:

ketabton.com - The Digital Library

- **Lower part (Helix)**

دغه برخه چی د Connective tissue څخه جوړه شوی او Lobule ورته وایی.

- **Under helix (Anti helix)**
- **Anti-tragus**
- **Fossa (Concha)**

External Auditory meatus (Canal)


هغه قنات دی چی له Concha څخه شروع او تر Tympanic membrane پوری رسیږی.

تقریباً د 24mm پوری اوږودوالی لری او د غوږ د انتقال وظیفه په غاړه لری.

ددی 2/3 نږدی یا Proximal part چی 16mm کیږی Bony part دی یعنی له هډوکی څخه جوړ شوی دی او 1/3 برخه یا Distal part یی عضروفی یا Cartilaginous دی چی 8mm کیږی.

دغه دواړه برخی د Skin په واسطه پوښل شوی دی، ددی قنات په عضروفی برخه کی Glands لیدل کیږی چی Ceremonial's gland ورته وایی او Wax یا ژیړ رنګه ماده تولیدوی.

دغه Wax غوږ ته د اجنبی موادو لکه ګرد او غبار د ننوتلو څخه مخنیوی کوی.



Tympanic membrane

یوه شفافه او نازکه پرده ده چی د منځنی او خارجی غوږ ترمنځ واقع شوی ده.

Oblique یا Oval شکل لری.


ketabton.com - The Digital Library

دغه Membrane دوه سطحی لری:

- External (Outer) surface: Concave
- Internal (Inner) surface: Convex

دغه پرده له دری طبقاتو څخه ترکیب شوی ده:

- Cuticular layer
- Fibrous layer
- Mucus layer



Middle Ear

دا د Tympanic cavity یا Tympanum په نوم سره هم یادیږی، په دوه برخو ویشل شوی ده:

- Proper tympanic cavity

چی د Tympanic membrane په مقابل کی قرار لری.

- Epi tympanic cavity


چی د Tympanic membrane څخه پورته واقع ده.

موقیعت یی:

د Temporal هډوکی په Posterior part کی موقیعت لری او شپږ دیوالونه لری:

- Superior wall (Tegmen tempani)
- Inferior wall (Jugular wall)
- Anterior wall (Carotid wall)
- Posterior wall
- Lateral wall (Membranous wall)
- Medial wall (Labyrinth wall)

ketabton.com - The Digital Library



منځنی غوږ په عمده ډول د لاندی دریو هډوکو څخه جوړ دی:

- Malleus څټک
- Incus سندان
- Stapes رکاب

Malleus

دا څټک ته ورته شکل لری نو ځکه ورته Hammer هم وایی، تر ټولو غټ او وحشی واقع هډوکی په منځنی غوږ کی دی او لاندی برخی لری:

- Head
- Neck
- Handle
- Process:
  - Anterior
  - Lateral

Incus

دا سندان ته ورته شکل لری نو ځکه ورته Black smiths ویل کیږی دا د Molar غاښ په شان دی او لاندی برخی لری:

- Body

ketabton.com - The Digital Library

- Long Process
- Short Process


Stapes

دا رکاب ته ورته دی نو ځکه ورته Stirrup هم وایی، دا تر ټولو کوچنی او انسی واقع هډوکی د منځنی غوږ دی چی لاندی برخی لری:

- Head
- Neck
- Foot plate
- Limbs:
- Anterior
- Posterior

Joints of Middle Ear

- **Incudomalleolar joint**
  Between incus or malleus bones.
- **Incudostepidial joint**
  Between incus or stapes bones.



ketabton.com - The Digital Library


Inner Ear


دا د Labyrinth په نوم هم یادیږی، چی دوه برخی لری:

- Bony labyrinth
- Membranous labyrinth

Parts of Bony labyrinth

- Cochlea
- Vestibule
- Semicircular canals






ketabton.com - The Digital Library

- The membranous labyrinth is filled with a clear fluid called endolymph and the space between bony and membranous labyrinth with a fluid called perilymph.

The bony labyrinth

Can be divided into three regions respectively known as cochlea involved in hearing, vestibule and semicircular canals involved in balance.



The cochlea

Is shaped like a snail shape.

And can bed divided into three portion by a y shape complex membrane.

The base of the y is spiral lamina one branch is the vestibular membrane the other branch is basilar membrane.

The space between vestibular and basilar membranes is called the cochlear duct.


The complex membrane labyrinth and filled with endolymph.

ketabton.com - The Digital Library

If the y is lying on one side.


The space above y is scala vestibule and the space bellow the scala tympany.

Inside the cochlear duct is specialized structure called spiral organ or organ of corti containing specialized sensory cells called hair cells.



The vestibule

The vestibule is divided into two chambers: utricle and sacculae which are surrounded by end lymph each chamber contain epithelial cells called maculae containing hair cells the tips of microvilli of these cells are embedded in a gelatinous mass weighted by otoliths:particles composed of protein and calcium carbonate called otoliths.



ketabton.com - The Digital Library

{References}

ماخذونه

- **Anatomy first volume (Bones, Joints and Muscles) 2013 by Dr Mohammad Nasir Nasraty.**
- **Anatomy second volume (Systemic anatomy. Digestive, Respiratory, Cardiovascular, urinary, Male and Female reproductive systmes) 2013 by Dr Mohammad Nasir Nasraty.**
- **Anatomy third volume (Nerous system, Sens organs and Endocrine glands) 2014 by Dr Mohammad Nasir Nasraty.**
- **Anatomy of the Nerovus system by Dr Yama Sediqi 2017.**
- **Chaursia BD Human Anatomy Regional and Applied Dissection and Clinical CBS PUBLISHERS AND DISTRABUTERS 4819/XI,Parahlad Street,24 Ansari Road -Daryagani,new dehli-110002(India) Sixth Edition 2014.**
- **Snil. S.Rechard Clinical Anatomy for Medical Students Ninth Editon 2012.**
- **Netter –Frank H. Atlas of Human Anatomy Icon Learning Systems-Teterboro, New jersey Sixth Edition 2014.**
- **Henry-GRAY'S Anatomy Charchill livingstone EDINBURGH, LONDON, MELBOURNE and NEW YORK. Thirty Seventh Edition 1989.**



ketabton.com - The Digital Library

Notes:

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English